مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: کاندا اکادمیسین محمد اعظم سیستاني
ژبان: تمهید سیلاني

۲۰۲۰/۰۲/۰۵

کۀ د تاریخ پر یو جابر نیوکه ونۀ شو کړای،

آیا کولی شو، د شلمې پیړۍ جنایت کوونکي و غندو؟

د ګودِ تیمور په هکله
حیرانېږم، کله چې وینم د ۲۱ پیړۍ رون آنده او لوستی ځوان چې د دموکراسۍ چینه یې پر اوږو وي او ځانته اجازه ورکوي چې د خپل هېواد پر برحاله رئیس جمهور نیوکه وکړي، مګر دا اجازه نه ورکوي چې د تاریخ د ۱۴ پیړۍ پر یو جابر واکمن نیوکه وشي!

دا ښاغلی تر دې کچې د قومي تعصب په لومو کې را ګیر دی، چې غواړي « ګودِ تیمور» د یو عادل واکمن په توګه خلکو ته ور وپېژني او پر هغه نیوکه د هغه تېر ته سپکاوی ګڼي!

دا ښاغلی دې مخکې له خپلو احساساتي او له تاریخي ملاتړ پرته ویناوو څخه، د کالاویخو سفرنامه د شرف الدین علي یزدي ظفرنامه او د تیمور خپله ملفوظات له نظره تېر کړي، تر څو له خولې څخه یې حقیقت ته نږدې خبرې را ووځي.

۲۱ پیړۍ چې د ټکنالوژۍ مودرانیزم پیړۍ بلل کیږي، مورِ کولی شو،د ګودِ تیمور یا ګورګاني تیمور پر نوم د یوه کلیک په کولو سره د هغه ډېر وحشتناک انځورونه د ګوګل پر پاڼې وګورو، یا هم د هغه په هکله ډېرې لیکنې او کتابونه مو تر سترګو شي، چې د نوموړي د شخصیت او کارنامو په هکله لیکل شوي دي.

آیا کیږي،چې پرته د کمزورو هېوادونو او خوارو ملتو له وژلو، وینې تویولو، شوکولو او لوټ ماریو د « جهانګشا» لقب خپل کړو؟ هېڅکله نه.

دا هېواد وال نن نورو ته دا اجازه نه ورکوي، چې له نن څخه د ۶۰۰ یا ۷۰۰ کاله پخوا د هغه فاتح پر بشري جنایت نیوکه وشي، چې په زرګونه عام ولس یې وژلی، مګر ځانته دا اجازه ورکوي چې پرعبدالرحمن خان (هغه کس چې دننې افغانستان یوالی یې تامین کړی) د یو سفاک او وژونکي واکمن په توګه او نادرشاه چې د کابل وګړي یې د سقوي غلو څخه وژغورل،د غدار نادر په نامه یاد کړي.

کله چې یو کس د ناپوهې له کبله، نه غواړي د ((ګودِ)) ویې یا کلمه د تاریخ یو جابر ته وکاروي، دا په دې معنا ده، چې دا کس غواړي ووایي: چې عبدالرشید دوستم د کابل په جګړو کې بې ګناه دی او د هغه انساني وژنه د عدالت غوښتنې له پاره وه؟!! او هر څوک چې هغه ته ((ګلم جمع)) یا په لیلي دښته کې د ۸ زرو طالبانو قاتل ووایي! ټول دروغ او له حقیقت څخه لرې خبرې دي!

همدغو غیر واقع بینانه څرګندونو ته په کتو سره، کېداشي سبا جهادي رهبران هم ووایي، چې کابل مورِ نه دی ویجاړ کړی او د ۶۵ زره کابلیانو وینه مورِ نه ده تویې کړې او د افشار سیمه هم مورِ نه ده ویجاړه کړې؟!!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ګودډ تيمور زمورږ د هېواد د آبادۍ او پرمختګ له پاره يو خبنته هم نه دي ايښي، تر کومه ځايه چې يې توان درلود،زمورږ عام ولس يې وژلي او ټول فرهنګي او مادي شتمنۍ يې لوټ کړي او خپل ټاټوبي سمرقند ته يې ليږولي دي.

ګودډ تيمور خپله واکمني د چنګېزي واکمنۍ لړۍ بلله او هڅه يې کوله په خپلو تابعو هېوادونو کې د هغه لاره تعقيب کړي، له همدې امله يې د چنګيز ((ياسای)) د اسلامي ښوونې له اصولو سره يوځای کړ او د ((تيموري تزوک)) په نامه يې قواعد را منځته کړل. مګر ياد اصول په نظامي برخه کې، تر ټولنيزو او هېوادنۍ برخو ډېر د پلي کېدو وړ و.

تيمور، ځان د چنګيزي لارې پاتې شونی باله، نو له همدې امله په وژنه او قتل عام کې له چنګيز څخه کم نه ؤ. د تاريخ ليکوونکو په وينا: « تيمور د دژحيمي په شان خونخواره، وژونکی او په ايران کې د مغلي دود په بيا رامنځته کېدو پيل وکړ.» تيمور دوه زره ((سربداران)) ژوندي په ګور دننه کړل. هغه په داسي توګه چې د ژوندیو کسانو لاس او پښې به يې تړلې او پر مخ به يې آجرو ملات ور ټومبول.» (تاريخ ايران، نوشته گروهی از مؤرخين شوروی، ترجمه ی کريم کشاورز، ص ۴۳۰)
تيمور، پر اصفهان د يرغل پر مهال قوماندانانو ته وويل: هر قوماندان يوه معينه اندازه سرونه غوڅ او تلسيم يې کړئ، له همدې امله له ۷۰ زرو ډېر د اصفهانيانو د سر کېړۍ را ټولې شوې،چې منارونه يې تري جوړ کړ. ګودډ تيمور پر ډهلي د يرغل مهال خپلو پوځيانو ته امر وکړ، چې قتل عام وکړي، چې په پايله کې د ياد ښار په ورځ (دروازه) کې په ډېره کمه موده کې تر ۸۰ زرو دېرې د سر کېړۍ را ټولې شوې. (هماغه اثر ، مخ : ۴۳۱)

معمولاً د امير تيمور فرمانونه مهر کېدل او د فرمان د ارزښت له امله يې ليکنې په طلايي،سور او تور زنګ باندې ليکل کېدې، کله هم د مهر پر ځای (تمغا) د سلطان يرليغ د ګوتې نښه کارول کېده. له سطان وروسته، اميرانو او وزيرانو لوړ موقف درلود او ځينې وختونه به له دوی سره ډېر اړين مسايل حل وفصل کېدل. د ولايت حاکمانو او مامورينو د فوق العاده صلاحيت او نفوذ خاوندان ؤ، د يوې سيمې د نيولو په هکله يې اصول داسي و، چې لومړی به يې سيمه تسخير کړه، غنيمتونه به يې ترلاسه کړل او د کلنې مالیات له ټاکولو وروسته به يې ياده سيمه پخواني حاکم ته وروسپارله، په دې شرط چې سکه او خطبه د سلطان په نوم وي. (مرتضی راوندی،تاريخ اجتماعی ايران، چاپ ۱۳۴۴ش، ج۲، ۱۹۸)

تيمور د هر ښار او سيمې له نيولو وروسته، د نومورو سيمو پر وګړو ډېر درانه مالیات وضع کول، لکه څرنګه چې په تبريز، سيستان او اصفهان کې مالیات ډېر درانه وضع شوي و او تيموري مامورينو په ډېر وحشيانه توګه ياد مالیات را ټولول، نو دسيمې او ښارونو خلکو د مامورينو پر وړاندې پاڅون وکړ او څو تنه مامورين يې ووژل. په پايله کې تيمور غوصه شو او پوځيانو ته يې د ښاريانو د قتل عام امر وکړ. (بيست و پنج سده مالیات، ص: ۸۶)

پر يوې سيمې د ګودډ تيمور لخوا د مالیات وضع کول، د تيمور د يرغل پر وړاندې د هغوی د مقاومت له مخې اېښودل کېدل، ځکه چې تيموريان په دې پوهېدل کوم خلک چې زمورږ د پوځ پر وړاندې ډېر مقاومت کوي، هغوی شتمن دي او ددوی د کمزوري کولو له پاره به يې ډېر مالیات پر دوی وضع کؤ، که چېرې نومورو وګړو له اېښودل شوي مالياتو څخه سرغړونه کوله، نو تيمور به د دوی د قتل عام امر صادر کړ.
ښکاره خبره ده، چې د هرات په سبزوار، د سيستان په پلازمېنه زرنج او حصار طاق کې تيمور د خلکو له کلک مقاومت سره مخامخ شو، چې دا کار د تيمور د لا غوصې لامل شو، تيمور ددې کار پر وړاندې امر وکړ، چې په سيستان کې حتا د اوبو بندونه دې ويجاړ شي، دوی په سيستان کې د نورو بندونو په ګډون د رستم بند چې د هيرمند رود خانې پورې اړوند و، ويجاړ کړ. دا هغه بند و چې په دې سره به د سيستان ټولې ښارزې سيمې خوړوبېدلې. وروسته يې د زرنج د وګړو د قتل عام امر صادر کړ. د تيمور پوځيانو دري ورځې د ښار ټول وګړي ووژل .(شرف الدين علی يزدی، ظفرنامه، زير عنوان سيستان ديده شود)

تيمور په زرنج ښار کې د زرګونو کسانو له کوپړيو منارونه جوړ کړل او دوه زره نور کسان يې ژوندي په ديوال کې خښ کړل. (راوندی، ج ۲، ص ۱۹۵)

ټول ليکل شوي تاريخونه، په ځانګړي توګه د غبار تاريخ په دې شاهدي ورکوي، چې ګودډ تيمور په سبزوار کې د زرګونو کسانو د وژلو ترڅنګ، له زرنج څخه د وتلو پر مهال د خپل جابر نوم د پرېښودلو په موخه،۴۰ زره کسانو ته امر وکړ، چې د هېرومند د رودخانې په لړ کې چې کوم د اوبو بندونه جوړ شوي و، ويجاړ کړي. د سيستان د اوبو له بندونو سره چې د خلکو ژوند تړلی ؤ، په ويجاړولو يې سيستان په بشپړه توګه ويجاړ شو، دا ويجاړيتوب تر دې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کچې و، چې حتا تر ننه پورې چې ۷۰۰ کاله تېر شوي دي، هغه ویجاړۍ پاتې دي او سیستان وروسته له هغو ویجاړیو د بېرازیو مخ ونه لید. په نیمروز کې ډېرې داسې ښارونه شته لکه : طاق، نوق،زرنج، چهل برج،قلعه سرخ او قلعه چخانسور، قلعه امیر معن، قلعه چګیني او قلعه شوالها او نور چې تر اوسه یې هغه پخواني ویجاړۍ پاتې او تر اوسه یې بیا د ابادۍ مخ نه دی لیدلی. ځکه ګوډ تېمور په سیستان کې، خورا مهم بندونه لکه : رستم، وبند، هاونک، وبند او یکه یې تخریب او ویجاړ کړل او وروسته د هیرومند له جنوب څخه د بست او کندهار په لوري وخوځېده او کندهار یې لوټ کړ، بیا د سمرقند په لور وخوځېد.

نو پر دې بنسټ د سیستان، هرات واسفزار(سبزوار)، بست او کندهار او دهغو سیمو وګړي چې ګوډ تېمور فتح کړي ؤ، حق لري چې تېمور په بدۍ یاد کړي، لکه څنګه چې چنګیز او علاو الدین جهانسوز او هغه ته ورته نور ظالمان په بدۍ یادوي.
پۀ لویدیځ(غرب) کې د پوهې او قلم خاوندان کولی شي، حتی پر عیسی پیغمبر نیوکه وکړي، مګر څوک لیکوونکي معذرت غوښتلو ته نۀ مجبوروي. لۀ بده مرغه زمور پۀ هیواد کې ځینې کسان د بیان آزادۍ لۀ حقوقو پۀ ګټې اخیستنې سره غواړي د تاریخ پر خولۀ مهر ولګوي. دا پۀ داسې حال کې ده، چې تاریخ نۀ له چاسره دوښمني او نۀ هم دوستي کوي، تاریخ د انسانانو لۀ کړنو سره کار لري چې تاریخ کې لوبېدلي وي او تاریخ دهغوی پۀ هکله خپل حکم صادروي.

تاریخ د ګوډ تېمور پۀ هکله خپل قضاوت کړی دی او هغه یې د جهانګشای، جابر او سفاک واکمن پۀ توګه پېژندلی دی، چې دی پرته لۀ چنګیز څخه بل سیال هم نۀ لري. اوس هغه نۀ د عبدالرشید دوستم پۀ اعتراض سره پۀ عدالت غوښتونکي شخص یا واکمن بدلیږي او نۀ هم د ګوډ تېمور پۀ نۀ ویلو، تاریخ خپل قضات نۀ بدلوي. یوازې پۀ هغۀ صورت کې تاریخ پر خپلې پرېکړې بیاکتنه کوي، چې ګوډ تېمور ببرته را ژوندی شي، چې دا ناشونی ده.

پای ۲/۲/۲۰۲۰

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ